# په یونان کښي د پوهني نظام



## د کریتی په اړ:

کریتی د یونان د زمکی او نفوسو په بنسټ د ټولو ستره, د نړی اته اتیایمه (۸۸) او د میدیتران سمندر د سیکیلیا, ساردینیا, قبرص او کورسیکی وروسته پینځمه (۵) ستره جزیره ده.

د لرغونی تیګی زمانی له وخته د تیرو ۱۳۰۰۰۰ کلونو راهیسی انسانان په دی جزیره کښی ژوند کوی. د ۲۷۰۰ نه تر ۱۴۲۰ ق. م. پوری د کریتی جزیره د اروپا د مخ په تللی کلتور "مینوا" مرکز وو. له هغي وروسته د ستری وچنیزی زمکی "میکین" کلتور دی جزیری ته راغی. وروسته په کریتی جزیره رومیانو, بظنطینی حکمرانانو, عربانو, اندلسیانو, د وینس جمهوریت او عثمانی سلطنت وار په وار حکومت اوکړ. په کال ۱۸۹۸ د کریتی خلکو اوغوختل چه د یو څه وخت لپاره د یونانیانو د دولت برخه اوسی, د عثمانیانو نه آزادی تر لاسه کړه او په رسمیت د کریتی دولت اوګرزید. د کال ۱۹۱۳ د دسامبر په میاشت کښی کریتی د یونان برخه جوړه شوه.

## د پوهنی د نظام لویی برخی:

په دولتی پوهنځایونو کښبی ټولو وګړو ته په ټولو مرحلو کښبی بغیر له خرڅ تعلیم ورکول د یونان د دولت د اساسی قانون برخه ده. د یونان د پوهنی نظام مرکزی دی. دا نظام د قانون, قانونی کارولو (امر او د وزارتی پریکړو) لاندی کار کوی.

## مرکزی سطح

په مرکزی سطح د پوهنی د نظام د ټولو برخو او مقاماتو د مدیریت مسولیت د پوهنی او مذهب وزارت په غاړه دی.

د اوږد مهاله لاس ته راوړنو سره تړلی ټولی بنسټی پریکړی کوی. بی له دی, د زده کړو د برنامو مواد جوړول, د استاذانو ګمارول او د پیسو د پانګونی څارل په ډول موضوعات چمتو کوی.

## د اولسوالی او محل سطح

د اولسوالی په سطح د اولسوالیو د زده کړو ریاستونه د ملي پوهني د پلان د کارولو څارنه کوی.

په محلی سطح د لومړی درجی او دویمی درجی د زده کړو ریاستونه د خپلو ولقو لاندی د ښونځیو څارنه کوی. په آخر کښبی ښونځي په ښه ډول د کارولو پاملرنه کوی.




## دپوهني د نظام تشکیل:

د غیږی د کچنیانو، د کچنیانو او ورو ماشومانو د زده کړی ځایونه د ښونځي د زده کړو نه وراندی شمارل کیږی. دوی د ښاروالی د مدیریت لاندی کار کوی. په دی ځایونو کښی د دوه میاشتو نه تر د لازمی زده کړو د عمر پوری د کچنیانو نوم لیکنه تر سره کیږی.

## په یونان کښی لاندینی زده کړی اجباری دی:

د ۴ او ۵ کلو کچنیانو په روزنتون کښی دو کلنیزی زده کړی

په ابتدایه ښونځیو کښی د زده کونکو شپږ کلنیزی (۶) زده کړی

په متوسطه ښونځیو کښی د زده کونکو دری کلنیزی (۳) زده کړی

په غته توګه د یونان د زده کړو نظام په دریو (۳) پراونو کښی ویشل شوی دی

## ابتدایه زده کړی:

په ابتدایه زده کړو کښې روزنتونونه او ابتدایی مکتبونه شامل دی

### روزنتون

د ۲۰۱۹/۲۰۱۸ ښوونځي کال راهیسی هغه کچنیان چه عمر یی د څلورو (۴) کلو رسیدلې لپاره د ښوونځي نه وړاندی زده کړی اجبارۍ دی. د کال ۲۰۲۱/۲۰۲۰ ښوونځي کال مخ په تر سره کیدو دی او د هیواد د آخیرو ښاروالیو په دوه کلنیزو (۲) اجباری زده کړو کښې شاملیدل دی.

د روزنتون هدف دا دی چه کچنیان بدنی, احساساتی, عقلی او د اړیکو په پیدا کولو کښې وده اوکړی. په ځانګړی توګه

۱. چه خپلو احساساتو ته وده ورکړی او خپل عملونه تنظیم کړی. حرکتی او عقلی

۲. په خپل چاپیرچل کښې خپلی تجربې تنظیم کړی او پکښې زیات والی راولی او ځان کښې د اړیکو پیدا کولو, ساتلو او د دی سره تړلی عکس العمل د لیدو توان پیدا کړی

۳. په اشارو پوهیدل او نور پوه کول او په ځانګړی توګه د ژبی, ریاضی رنګ روغان د زده کړو توان پیدا کړی

۴. د یو او بل سره اړیکی او ارتباط پیدا کول او ګام په ګام په اسانتیا سره ټولنیز ژوند ته ننوتل.

۵. په منظم ټولګنیز څاپیرچل کښې ځان ته یوائې کار مخ ته بول او د ټولګی د بل غړی سره اړیکو ته احترام ساتل.

د ښوونځي زده کړو وړاندی تعلیمی برنامه او دی سره تر څنګ مرستنیز مواد د پوهنې تګ لاری انستیتیوت د نظارت لاندی تشکیل او د پوهنې وزارت له اړخه تایید شوی.

## ددولتی ښوونځي زده کړو (روزنتون)د اجباری برنامی لپاره:

د پوهنې تګ لاری انستیتیوت د لار خودنی نه وروسته د پوهنې او مذهب وزارت په جوړ شوی قانون (۲۰۲۰/۴۶۹۲) کښې شامل دی:

› یوه تعلیمی سرګرمی چه سر لیک یی "د هنری زده کړو ورکشاپونه" دی او پکښې په روزنتونونو کښې د نوی موضو عاتی درسونو زیاتول شامل دی. هدف یی دا دی چه د سائینس او ټیکنلوجی سره تړلي د نرمو هنرونو او د د ژوند د هنرونو توان پیدا کړی.

› د تنظیم او د سرګرمیو مخ ته وړلو له لاری په انګریزی ژبه کښې د زده کونکو د تخلیقی کارولو زده کونکی سرګرمی. په دی محال زده کونکی د روزنتون د استاذانو په مخکښې د انګریزی ژبی استاذانو سره (د پوهنتون درس ویونکی) مخ په مخ راځی.

په ځانګړی ډول د پیلوټی سرګرمی په لومړی څل " د هنری زده کړو ورکشاپونه" په ابتدایه او متوسطه زده کړو کښې شاملوی.

ابتدا یه زده کړی . د ښاروالی (محلی) ښوونځي وروستنی پړاو دی. د شپږ (۶) کاله اوږدوالې لری. دا له شپږو تر دولسو کلو (۶-۱۲) ماشومانو سره تړاو لرې.

د ۱۷/۲۰۱۶ مکتبی کال راهیسی یوائنی د مکتب د وختونو ورځنیز برنامه کارول کیږی. په دی چوکاټ کښې ټول روزنتونونه او ابتدایه مکتبونه د ټولی ورځی د زده کړی برنامه لری. په ابتدایه مکتبونو کښې زده کړی شپږ کاله (۶) دوام لری. دی کښې A, B, Γ, Δ, E او ΣT ټولګی شامل دی. شپږ کلن (۶) کچنیان د ابتدایه مکتب په لومړی ټولګی کښې شاملیږی.

## د ابتدایه مکتب د ټولی ورځی زده کړی دا دی:

۱. مذهبی زده کړی

۲. ژبه

۳. رياضی

۴. تاريخ

۵. د چاپيرچل څيړنه

۶. جغرافيه

۷. ساينس

۸. مدنی زده کړی

۹. فنی زده کړی

۱۰. بدنی زده کړی

۱۱. انګريزی

۱۲. دويمه پردی ژبه

۱۳ . ارتجاعی محل

۱۴. آيی ټی

د قانون ۱۹۸۵/۱۵۶۶ په اساس د ابتدايه مکتب هدف دا دی چه کچنيان په هر اړخيز روحانی او بدنی ډول پر مختګ اوکړی. په ځانګړی ډول:

۱ . چه د شيانو سره نزدی کيدو, د بيلا بيلو حالاتو د هغوی د اغيز ده ليدو او په فکر کښی وليدو په بنسټ تخليقی سرګرمی زياته کړی

۲ . چه داسی مکانيزم پيدا کړی چه د هغې په اساس د علم د زده کړی, بدنی ودی, روانی او جسمانی روغتيا استعداد مينځ ته راوړی

۳ . چه په اساسی عادی معنو د پوهی, او ورو ورو د سوچ او فکر د مادی پيدا کولو توان پيدا کړی

۴. چه د ليک او لوست په اسانتيا سره د کارولو توان پيدا کړی

۵ . چه ورو ورو په اخلاقی, مذهبی, ملی, انسانی او نورو قدرونو خبر شی او د قدرونو په منظم نظام کښی ي اچوی.

۶ . چه خپل احساساتی استعداد ته وده ورکړی او د فن او هنر کار ته احترام لرل پيدا کړی او د دی تر څنګ په خپلو فنی تخليقاتو کښی خپل احساسات اوښايی.

د ابتدايه مکتب ټول ورځنيز اختياری مکتب هدف دا دی چه د مازيګر وخت زده کونکی کچنيان خپل وخت د يو بل سره په درسی سرګرميو کښی تير کړی. په نتيجه کښی په مور پلار مالی بار کموی. مور او پلار دی ته نه مجبوريږی چه د مکتب د چاپير چل نه وړيا نوری زده کونکی سهولتونو پسی اوګرزی.

د زده کړې د اهدافو, د کچنیانو د زده کړو عملي کارولو, د امتحان اخستلو ترتیبونو او د مکتبونو او د مکتبي ټولنو د نتیجو ویستو تر څنګ د درسي او مشاورتي مرستنیزو مرکزونو, د چاپیرچل درسي مرکزونو او د اولسولیو په سطح د درسي جوړښت مرکزونو په مرسته, مونږ روښانه امید لرو چه دا به یوناني زده کونکي نظام ته نوي توان اوبخښي.

## متوسطه زده کړې

## په متوسطه زده کړو کښې دوه درسي پړاونه شامل دي

### جمناسیم

لومړې پړاو اجباري دي او جمناسیم نومیږي

- دري کاله (۳) اوږدوالي لري
- دې کښې عام زده کړې شاملې دي
- دې کښې له دولسو ۱۲ نه تر پینځه لس ۱۵ کلو کچنیان زده کړې کوي
- دا پړاو په عمومي او شغلي لیسه کښې د نوم لیکنې لپاره لازم دي.
- د مازیګر جمناسیم د سحار جمنازیم سره تر څنګ خلاص وي او دې کښې کچنیان د څوارلس کلو (۱۴) نه زده کړې بشپړوي.

### لیسه

د متوسطې زده کړو دویم پړاو غیر اجباري څیره لري او دې کښې عمومي لیسې او شغلي لیسې شاملې دي.

- دا دري کاله (۳) اوږدوالي لري
- دې کښې د پینځه لس کلنو (۱۵) کچنینانو نوم لیکنه مخ ته ځي.

### په ځانګړې ډول عمومي غیر اجباري زده کړې داسې لیدل کیږي:

الف. عمومي لیسه. دا دري (۳) کلونو پوری زده کړې ښایي او دې کښې د عمومي زده کړو سره په څنګ د مخ لار ښود زده کړې شاملې دي.

ب. شغلي لیسه. شغلي لیسه د زده کړو دوه (۲) پړا ونه لري:

د زده کړو متوسطه پړاو او د متوسطه زده کړو نه ورسته پړاو (دا اختیاري دي) چه د "زده کړې ټولګی" نومیږي. د سحارنی سره تر څنګ دا لاندې هم خلاص وي.

الف. مازیګرې عمومي لیسه

ب. مازیګرې شغلي لیسه

## لوړې زده کړې

لوړې زده کړې د عادي زده کړو د نظام اخیرنی پړاو بلل کیږي. د پوهنتون زده کړې عموما څلور (۴) کاله ادامه لري او وروسته ماسټرۍ یو (۱) نه تر دوه (۲) کلو وخت نیسي. دوکتورۍ حد اقل درې (۳) کاله اوږدوالی لري.

دے کښې د پوهنتون برخه شامله ده:

- پوهنتونونه
- پولي ټيکنيکونه
- د ښکلی هنرونو مکتب

## د بالغتوب زده کړې

په یونان کښې د با لغانو ذده کړې د بالغانو د زده کړو په مرکزونو کښې سر ته رسي چه معمولا د ښاروالی د نظارت لاندې دندې کاروي. دې مرکزونو کښې بيلا بيلې زده کړې چه هدف ي عادي او غير عادي دي, ښودل کيږي. بل اړخ ته شغلی زده کړې ښودونکی انسټيټيوټونه او شغلی زده کړې ښودونکی مکتبونه زیاد تر د زده کړو خپل برنامې د با لغو زده کونکو او د کار د بازار د ضرورتونو په رڼړا کښې چمتو کوی. په آخر کښې د بالغانو دويم چانسي زده کړې ښودونکی مکتبونه د هغه زده کړه کونکو لپاره دي چه دوی د خپل ژوند په یو وخت کښې مکتب پريښودی او غواړي چه وروسته خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي.

## د یونان د پوهني نظام او يو والی (ادغام)

د يونان د پوهني نظام د يو والی په اصول ولاړ دی څکه چه د مهاجرو او کډوالو بچيان په هغه مکتبونو کښې زده کړې کوی چرته چه یونانی ماشومان زده کونکی هم زده کړې تر سره کوی. هم دا رنګ د اراکليو ولایت په نهه ديرش (۳۹) مکتبونو کښې چه نه يوائې په ښار بلکه د ولایت په بيلا بيلو ځایونو (۲۰۲۰-۲۰۲۱) کښې خوراه دي, د مهاجرو او کډوالو د بچیانو لپاره ټولګی لري.

د مهاجرو او کډوالو زده کړه کونکو لپاره دوه (۲) ټولګي شتون لري, لومړی (۱) ټولګی او دويم (۲) ټولګی. لومړی ټولګی د هغه زده کړه کونکو لپاره دی چه په یونانی ژبه هيڅ نه پوهيږي او نه پرې خبرې کولی شي او دويم ټولګی د هغو زده کړه کونکو لپاره دی چه په یونانی ژبه د يو څه نه څه حد پورې پوهيږي.




د اراکلیو د ابتدایه پوهنې مقام دا هدف لری چه په ډیر ښه ډول د مهاجرو او کډوالو د زده کړی او ښودنی عمل په مثبت لاس ته راوړنو سره اوکاروی. له دی لپاره مونږ د داسی تنظیمونو او بنسټونو سره چه د مهاجرو او کډوالو کښی ښکیل وی همکاری کوو لکه د اراکلیو د ښاروالۍ د مهاجرت مرکز, د مالیویزیو ښاروالۍ او نوری بیلا بیلی غیر دولتی تنظیمونه. دا مقام د زده کونکو د کور د ادرس د نظر لاندی نیولو په بنسټ د مناسب ښونځی په پیدا کیدو کښی مرسته کوی او وروسته د مناسب ښونځۍ سره اړیکی نیسی چه د هغو زده کونکو په نوم لیکنه کښی اسانتیا مینځ ته راشی. په دی ټول دوران کښی د ځانګړو ټولنیزو مرسته کونکو, ځانګړی استاذانو او د زده کړی ښودونکو منتظمینو تر مینځ ډیر نزدی همکاری شتون لری چه د زده کړه کونکو د زده کړی سره تړلی اړتیاوی پوره کولو مناسب خدمت سر ته اورسی. د مثال په توګه په نزدی تیر وخت کښی داسی زده کونکو شتون درلود چه ځانګړی زده کونکی اړتیا یی در لودی او مقام ورسره په هغو اړتیایو کښی د مرستی کولو لپاره ګامونه پورته کړل چه ورته اسانتیا پیدا شی.


Μαθηματικά